
**بسم الله الرحمن الرحيم**

**متقیان څوک دي؟**




الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ**

[بقره: ۱۸۳]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! په تاسو باندې د پخوانیو قومونو غوندې روژه فرض ده، د دې لپاره چې متقیان شئ.*

موږ په ژوند، کار، دنده، کور، خپلو ماشومانو او د ژوند په نورو چارو کې ځانګړې موخې لرو. مګر د روژې په مبارکه میاشت کې باید زموږ موخه څه وي، چې د ژوند پاتې برخې ته ځانګړې رنګ ورکړي؟ په پورته مبارک آیت کې الله سبحانه و تعالی موږ ته ویلې دي چې د روژې موخه تقوا ده. مګر تقوا څه ده؟ او څنګه متقیان شو؟

په اصل کې د هر مومن اصلي موخه باید دا وي چې متقي شي، ځکه الله سبحانه و تعالی له متقینو سره مینه لري او الله ژمنه کړې چې له متقیانو سره مرسته کوي، رحمورباندې کوي، ښښنه ورته کوي، په جنت کې لوړ مقام ورکوي او همدارنګه له حرامو کارونو یې ساتي او هدایت ورته کوي. الله سبحانه و تعالی په دې اړه داسې فرمايلي دي:

**(إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ)**

[ملک: ۱۲]

*ژباړه: هغه کسان چې د الله له عذاب څخه په غیب ویره لري، د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر دی.*

همدارنګه الله سبحانه و تعالی فرمایلي دي:

**(لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ وَاللهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ)**

[عمران: ۱۵]

***ژباړه:*** *د متقیانو لپاره له رب سره داسې جنتونه دي چې ویلې پکې بهیږي او دوی به په دې جنتونو کې د تل لپاره وي او همدارنګه دوی پاکې مېرمنې دي او د الله رضایت او خوښي او الله خپل بندګانویني.*

﴿بَلَى مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ وَاتَّقَى فَإِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ﴾

[عمران:٧٦]

***ژباړه:*** *هو! كه څوک پر خپله ژمنه ودرېدل او تقوا يې وكړه، نو پرته له شكه الله له متقيانو سره محبت لري [جنت ته يې بيايي].*

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾

[طلاق: ٢-٣]

***ژباړه:*** *كه چا تقوا وكړه، نو الله به ورته له ستونزو څخه د وتلو لار پرانيزي او له هغې لارې به روزي وركړي چې فكر يې هم نه كاوه او څوک چې پر الله توكل وكړي، نو همدا الله ورته كافي دى، الله پر خپلو چارو كې برلاسى دى، الله هر څه ته ځانګړې كچه ټاكلې ده.*

﴿إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا عَنكَ مِنَ اللَّهِ شَيئًا وإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ﴾

[جاثيه: ١٩]

***ژباړه:*** *دوى نشي كولى چې تا له هغه څه وساتي چې الله يې پرېكړه كړې ده او ظالمان يو د بل وليان دي او الله د متقيانو ولي دى.*

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾

[حديد: ٢٨]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! له الله څخه وويرېږئ [تقوا وكړئ] او پر رسول يې ايمان راوړئ، چې هغه دربانديې دوه چنده رحمت وكړي او تاسو ته داسې رڼا راوړي چې د هغه له بركته به تګ كوى او تاسو ته مغفرت وكړي او الله بښوونكى او مهربانه دى.*

له پورته ايتونو څخه څرګندېږي چې د هر رښتيني مومن هيله او اميد دا دى چې متقي شي. نو متقيان څوک دي او د دوى څرنګوالى او مشخصات څه دي؟

كېدى شي موږ به سوچ كوو چې تقوا دې ته وايي چې څوک خپل زيات وخت په لمانځه او يا مسجد كې تېر كړي او يا هم زيات ذكر او دعا كوي، يا زياته روژه نيسي، يا زاړه كالي اغوندي او يا په خورا كمو امكاناتو سره ژوند كوي. مګر كه موږ د تقوا په موخه دا ياد شوي كارونه كړي وي، نو تقوا مو نه ده كړې. په هر حال راځو دې ته چې اسلام موږ ته تقوا څنګه ښودلې ده؟

يو ځل عمر بن خطاب رضى الله تعالى عنه له ابى بن كعب رضى الله تعالى عنه څخه داسې پوښتنه وكړه: ستا له انده تقوا څه ده؟ ابى بن كعب داسې ورته وويل: كله هم په يوه اغزنه لاره تللى يې، چې اوږده كالي دې اغوستي وي او ځړېدلي وې درپسې؟ عمر رضى الله تعالى عنه ورته وويل: هوا!. ابى بن كعب رضى الله تعالى عنه پوښتنه ترې وكړه: نو په داسې يوه حالت كې تا څه كړي دي؟ عمر رضى الله تعالى عنه ورته وويل: ما مې خپل كالي راپورته كړي دي او پر ځان پورې مې جوخت نيولي دي، چې اغزي پكې لاړ نشي او په ډېر احتياط مخكې تللى يم. ابى ورته وويل: همدا تقوا ده.

نو تقوا دا ده چې موږ او تاسو د خپل ژوند پر مسير په خورا احتياط او هوښيارۍ سره تګ وكړو او خپل ځانونو په ګناهونو كې له لوېدلو وساتو. موږ ته دا د الله سبحانه و تعالى له لوري يوه لويه خبرتيا ده چې خپل ټول عملونه او چارې سمې كړو او د الله اوامر پلي كړو او له نواهيو يې ځانونه لرې وساتو.

د تقوا كلمه له (وقايې) اخيستل شوې ده، چې وقايه په ژبپوهنه كې د خپل ځان ساتلو ته وايي. په دې اړه حافظ ابن حجر عسقلاني رحمة الله عليه وايي چې تقوا دې ته وايي چې څوک د خپل ځان او د الله د عذاب ترمنځ يو حايل ودروي.

نو پر دې بنسټ؛ متقي مومن هغه څوک دی چې تل هوشيار وي او داسې کارونه کوي چې خپل ځان د الله له عذاب او غضب څخه وساتي او خپل ځان له همدې ويرې د الله بندګۍ ته وقف کوي او د ژوند په ټولو چارو کې د الله د اوامرو اطاعت کوي او له حدودو يې ځان لرې ساتي.
الله سبحانه و تعالی په دې اړه د عمران په سورت کې داسې فرمايلي دي:
**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ)**

[عمران: ۱۰۲]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! له الله څخه داسې وويرېږې لکه څنګه چې ښايي او په داسې حالت کې له دنيا لاړ شئ [مړه شئ] چې مسلمانان وئ*

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت تفسيراوه، نو له الله څخه ويره لرل يې داسې بيان کړل: **أَنْ يُطَاعَ فَلَا يُعْصَى، وَيُشْكَرَ فَلَا يُكْفَرُ، وَيُذْكَرَ فَلَا يُنْسَى** يعنې اطاعت وکړې او سرغړونه ونه کړې، شکر وکړې او ناشکري ونه کړې او الله ياد کړې او هير يې نه کړې.
پخوانيو علماوو په دې اړه ويلي دي چې  متقيان هغه کسان دي چې هغه کارونه چې الله سبحانه و تعالی خلک ترې منعه کړي دي، کله يې هم نه کوي او هغه کارونه سرته رسوي چې الله يې د کولو امر کړی دی. الله سبحانه و تعالی د حشر په سورت کې په دې اړه داسې فرمايلي دي:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ)**
[حشر: ۱۸]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! له الله څخه وويرېږئ او هر څوک دې انتظار وکړي [هغې ورځې ته] چې څه يې تقديم کړې دي، له الله څخه وويرېږئ، پرته له شکه الله په هغو کارونو خبر دی چې تاسو کړي دي.*

د دې ايت په اړه ابن کثير وايي چې الله سبحانه و تعالی موږ ته امر کړی دی چې تقوا وکړو، د دې معنا دا ده چې هغه کارونه وکړو چې الله يې امر کړی او له هغو کارونو لرې واوسو چې الله موږ ترې منعه کړې يو. همدارنګه حسن بصری رحمة الله عليه په دې اړه داسې ويلي دي: (متقيان هغه کسان دي چې د الله په اوامرو باندې عمل کوي او له نواهيو يې خپل ځان لرې ساتي). همداراز عمر بن عبد العزير رحمة الله عليه په دې اړه داسې فرمايلي دي: (تقوا دا نه ده چې څوک د ورځې روژه ونيسي او د شپې تهجد او قيام وکړي، بلکې تقوا دې ته وايي چې څوک حرام کارونه ونه کړي او پر هغو کارونو چې الله امر ورباندې کړی دی عمل وکړي او که چا دا کار وکړ، نو الله به ورته ښه بدله ورکړي.)

نو متقيان هغه کسان دي چې خپلو کارونو ته متوجه وي او خپل ځان په خپله څاري او د ژوند په ټولو چارو لکه؛ اقتصادي، اجتماعي، سياسي، اخلاقي او معنوي کې د الله سبحانه و تعالی د احکامو پيروي کوي. عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه يو ځل يوه کس ته چې لمونځ يې کاوه وکتل او داسې يې وويل: (ستاسو هغه ملګري چې ډېری وخت خپل سرونه ټيټوي او پورته کوي [لمونځ کوي] ماته چل نشي راکولی، ربښتينی کس هغه څوک دی چې د الله په دين کې خورا محتاط او دقيق وي او خپل ځان له هغو کارونو لرې وساتي چې الله منعه کړي دي او د الله د اوامرو او نواهيو مطابق ژوند وکړي.)
که خبره راټوله کړو، نو متقي هغه چا ته نه ويل کېږي چې يوازې روژه نيسي او لمونځ کوي او له خپلې کورنۍ، مور او پلار او خپلوانو سره غوره رويه کوي او د دوی حقوق د اسلام مطابق ورکوي.

همدارنگه تقوا دې ته نه ویل کېږي چې څوک تل قیام کوي، قران کریم تلاوت کوي او د الله ذکر کوي او یا هم ډېر لمونځونه کوي، بلکې تقوا دا ده چې څوک خپل ځان په اسلامي ټولنیز ژوند باندې ملبس کړي او د مخالف جنس سره یې اړیکې د اسلام پر بنسټ وي.

همداراز تقوا دې ته نه وایي چې یوازې صدقه ورکړل شي، بلکې تقوا دې ته وایي چې څوک خپله سوداګري او د پیسو د لاسته راوړلو طریقه د اسلام پر بنسټ برابره کړي او له سود خوړلو ځان وساتي او او په خپلو مالي چارو کې د اسلام په اقتصادي احکامو ټینګ ودرېږي.

همداراز تقوا دا نه ده چې یوازې لمونځ کوي او تل مسجد ته ځي، مګر په سوریه، فلسطین، میانمار او په نورو ټولو سیمو کې چې هلته د مسلمانانو وینې تویېږي غلی وي او خپل غږ د ظالمو حکامو پر وړاندې نه پورته کوي او د دوی پر وړاندې د الله د امر مطابق نه درېږي.

همدارنګه دا تقوا نه ده چې څوک هغه کسان محاسبه کوي چې لمونځ نه کوي او روژه نه نیسي، بلکې تقوا دا ده چې څوک د مسلمانانو حکام محاسبه کوي، د دوی د فساد پر وړاندې خپل غږونه پورته کوي او د دوی د کفري نظامونو د لرې کولو په موخه مبارزه کوي او تقوا دا ده چې څوک د الله د دین لپاره دعوت کوي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منهج پر بنسټ دویم راشده خلافت تاسیس شي، لکه څنګه چې الله یې د تاسیس امر کړی دی.

پایله دا چې؛ تقوا هغه کیلي ده چې د الله د رضایت او جنت دروازه پرانیزي. مګر لکه نورو کیلیو غوندې دا هم باید داسې یوه کیلي وي چې هر غاښ یې د دروازې د قلف سره سمون ولري. سر بېره پر دې؛ د جنت دروازه هغه مهال ورباندې پرانیستلی شو چې کله د الله سبحانه و تعالی اطاعت وکړو او د هغه د قوانینو مطابق ژوند وکړو. دا یوازې هغه وخت شونې ده چې د الله سبحانه و تعالی رانازل شوی شریعت پلی کړو او دا هغه وخت امکان لري چې دویم راشده خلافت تاسیس کړو، هغه خلافت چې ټول اسلامي قوانین پلي کوي او په دې سره به موږ وکولی شو چې په بشپړه توګه د خپل رب اطاعت وکړو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ، إِلاَّ مَنْ أَبَى». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى»**

**ژباړه**: زما ټول امتیان به جنت ته لاړ شي، مګر هغه کسان نشي تللی چې (ابا) یې کړې وي. دوی [اصحابو] وویل چې هغه کسان څوک دي چې (ابا) یې کړې وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چا چې زما پیروي وکړه جنت ته ځي او که چا سرغړونه وکړه، نو دغه کس ابا وکړه.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**په مرکزي مطبوعاتي دفتر کې د ښځو د څانګې د ریاست لیکنه**

**ژباړه: انجنیر احرار**